

خوږو نثرونو ټولګ

# د پښتو ملغلري

لیکوال : طارق فقیرزی

# د پښتو ملغلری

لیکوال

طارق فقیرزی

Download from: aghalibrary.com

بسم الله لرحمن الرحـــــيم

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم: دپښتو ملغلری
لیکوال: طارق فقیرزی
دچاپ کال: ۱۳۹۰
تیراژ: ۱۰۰ جلده
کمپوز: خپله لیکوال
دموبایل شمیره ۰۷۰۰۲۶۶۹۱۹

پته: کابل افغانستان ددانش خپرونه

نیو کابل لویه مطبه

# ډالي

خپل ګران پلار او مورتــه چـــــــــی تل یی
زما ارمانونه دخـپلو لومـــــــــــړی ارمانونو
څخه ګڼلـــی دی او زما د روښـــــــانه راتلونکی
لپاره یـی تل دالله (ج) حضور ته لاسونـه لپه کړی
دی نوزه هم ورته دا کتاب دزړه دکومی ډالی کوم

په درنښت ((فقیرزی))

## ځلانده لیکنه

ځوانی په ربښتیا هـــــم چـــي د خـــــــیال او د خوښی دوره وی
او دغه دوره یوه طلایی دوره وی.
خو باید هیڅ ځوک دغه دوره بـــــی ځایه تیـره نکړی او تل دی کوښښ
وکړی چی په دی وخت کی یوه ښه لار غوره کړی.
او خپل راتلونکی په فکرسره وټکی.
نو داسی ښکاری چی طارق فقیرزی هم خپل وخت بی ځایه تیر کړی نه دی او
دقلم به ځوکه خوندوری خبری لیـکلی او غواړی چی خپل دزړه خبری د قلم په
ځوکه بیان کړی. نوموړ ورته هم دبریالیتوب دوعا کوو او خدای د دی په ځوانی
کی برکت او توان پیدا کړی چی خپله ژبه نوره هم ښکلی کړی.
او نورهم ښکلی نثرونه ولیکی

په درنښت تول دفقیرزی تولګوال
۱۳۹۰/۸/۳

## خپلی خبری

کله چــې مي د نثرلکیلو ته مخه کړه نو خلکو راته ډول ډول نظرونه راکړل
چا بــه راته وویل چي دغه لیکنه دی خـــوندوره نه ده او ډیري ستونزي پکې
شــتون لري نوزه ما زړه هم به ماته شو او قلم به مي بیرته کښود او په همدي
فـکربه خوب یوړلم خو بیا به مــی قلم راواخست اوبیا به می غوښتل می یوڅه
ولـیکم خو په همدي مبارزه مــي دقلم اصلي خـــــوند پیدا کړه اود خوند څخه
ډک نثرونه می ولیکل او په همدي فکر مې نن یو کتاب هم چاپ شو او خدای
دی
وکړې چې د خلـکو د مینی وړ وګرځـــــې او زما د غه زحمت ته ارزښت
ورکړی .
او په اخر کی می دتول کورنی څـــخه می دغه هلیه ده چی خپل زوی پریږدی چی
دخپلی خوښی کار وتاکی.

لیکوال
طارق فقیرزی
۱۳۹۰/۸/۴ کابل افغانستان

## لړلیک


یوه نیکمرغه ټولنه ........................ ۱
قانون او خلک ........................ ۲
زده کړه ........................ ۳
یو غښتلی حاکم ........................ ۴
یوه اسلامی ټولنه........................ ۵
دبریا لار........................ ۶
غوره نثر........................ ۷
ځپلواکی........................ ۸
اداری فساد........................ ۹
ښه ملګری........................ ۱۰
دافغانانو ژوند........................ ۱۱
یوه سالمه اداره ........................ ۱۲
دومخي انسان ........................ ۱۳
نړی........................ ۱۴
یووالی........................ ۱۵
سوله ........................ ۱۶
دانسان زړه مه ماتوه ........................ ۱۷
ملي وحدت........................ ۱۸
دموکراسی څه ته وایی........................ ۱۹
نیکی........................ ۲۰

د احتاج شپی ....................................... ۲۱
ژوند ........................................... ۲۲
تولنیزژوند ...................................... ۲۳
داحتاج شپی....................................... ۲۴
ماشومان........................................... ۲۵
دحل لارخه ده ................................... ۲۶
مور او پلار....................................... ۲۷
ځوانان او تولنه .................................. ۲۸
د یو غښتلی اقتصاد جوړول ..................... ۲۹
یوه نیمکمرغه کورنی .......................... ۳۰
آیا دافغانستان قومونه سره یو دی ............. ۳۱
دافغانستان کلتوري تولنی ته یوه کتنه........... ۳۲

# یوه نیکمرغه تولنه

دا به څرګنده وی چی یوه ښه تولنه د خلکو پوری اړه لری او دا پریکړه د دخلکو په لاس کی ده.

خو اوس باید دا څرګنده کړو چی یوه ښه تولنه دکومو اصلی عناصرو پوری اړه لری؟ څلور اړین عناصر د یوی ښی تولنی سبب کیدای شی.

۱- سوله
۲- په ګډه سره هری ستونزی ته یوه غوره لاره کتل.
۳- یووالی
۴- دخلکو مرسته دیو بل سره

دغه څلور عناصر دیوی نیکمرغی تولنی په جوړښت کی مهم رول لوبه وی.

سوله : د نیکمرغی او دیوی هوسا تولنی سبب ګرځی سوله د یو هیواد پرمختګ هم کیدا شی نو اړینه داده چی دسولی لمن په خپل منځو کی وغوړو. او همدا سوله ده چی تیاری د منځه وړی او دڼنا دیوه بله وی.

یووالی : یووالی هم دپرمختګ او دپردی یرغل څخه مخنوی کوی او کولای شی د یو پرمختللی هیواد سبب وګرځی.
نو اوس دخلکو مرسته د یو بل سره هم ډیره اړینه بلل کیدا شی .

مونږ افغانان د هری خوا وزپول شو او د بهرنی هیوادونو د لوبی دګر وګرځیدو نو اوس مونږ دوست او دښمن په اصلی ځیره کی ولید او نور دښمن باید دی ته پری نه ګدو چی مونږ ته بدله ځیره یو ځل بیا وښی .

نو دحل لاره همدا ده چی دسولی ښکلا ته نوره ښکلا هم ورکړو نودا به په اوسنی عصر کی ډیره ګتوره پایله ولری .

# قــانــون او خـلـک

هر هيواد خپل اساسى قانون لري اوددى قانون پربنسټ عمل تر سره کيږى او څه چې د قانون پر بنسټ ليکل شوى وى نــو هغه به پلتى کيږى او که چيرى څوک دقانون څخه سر غړونه کـــوى نو هغه مجرم گڼل کيږى.

خو په افغانستان کــى قانون چپه دى دا په دى معنا ده چى خـلـک دقانون څخه سر غړونه کـــوى او دافغانستان دقانون پر ضـــــد کارونه کوى. چى د کـــار په تولنيز ژوندانه او همدارنگه اسلامى قوانين هم تر پـــخو لاندى کوى او په پاى کى ديوى نا امنه تولنى سبب گرځى او دهيواد د پرمختگ پـــه مخنوى کـــى پراخ رول لوبه وى.

خـــو کـــه مـــوږ دافغان ولس گرم وبولو نو تردېره ځايه دافغان حکومت هم گرم دى ځکه هـغوى قـــانون پـــه ځـــان نـــه پلتى کوى او دقانون پـــرضد کارونـــه کـــوى نـــو اوس د افــغان ولس څخه څه گله ده.
نو اړينه دا ده چى حکومت لومړى قانون پرځان تبطق کـــړى او بيا يى پرخلکو نو که دا توافق او عمل کرد اجرا شى نـــوزه ما په اند دا به ډيره ښه پياله دځانه سره ولــــرى او ديوى ښى تولنى اود هيواد د پرمختگ سبب به وگرځى.

## زده کړه

زده کړه په ټولنه کې د هرڅه د مخې ډيره ضروري ده. زده کړه د هرې ټولنې د پرمختګ سبب ګرځي.
او همدا زده کړه ده چې موږ انسانان د بشرې ټولنې په ارزښت پوهه وي او د رڼا لارموږ ته رابښي.
زده کړه دهر مومن دترقي او دځان پيژندني او همدارنګه د بشريت حقوق موږ ته څرګنده وي چې دا ټول د زده کړې برکت دی.

خو په افغانستان کې د زده کړې کچه ډيره لاندې ده او په تيرو ديرشو کالو کې د زده کړې کچه ډيره کمه شوې ووه .
او همدارنګه زمونږ ډير شمير ځوانان هم دزده کړې څخه ليرې پاتې شول چې پايله يې ډيره بده وه او د يوې ورسته پاتې ټولنې جوګه وګرځيدو.
نو اوس بايد دا فغان حکومت د ځوانانو زده کړو ته اړين ګامونه پورته کړي او پرمختللې ښوونځي دی ورته چمتو کړي چې تر څو د ځوانانو زده کړه د بريا په لور حرکت وکړي.

# یو غښتلی حاکم

حاکم هغه څوک دی چې د ټول هیواد حاکمیت په لاس کې لري.

حاکم باید د دغو کردارو تابعي وسی.

۱- حاکم باید د حقوقو تابع وسي.

۲- حاکم باید دټولنې دستونزو څخه ځان خبر کړي .

۳- حاکم باید خپل او پردي یو شان وګڼي.

چې دا حاکم که چیرې ددغو اعمالو خاوند وي نو کیداشي د یو عادل حاکم تر نوم لاندې حاکمیت وکړي.

حاکم باید تل دقانون په چوکاټ کې د هر چا د حقوقو تابع وسي او همدارنګه باید ټولې قوې د کنټرول لاندې را ولي.

مونږ داسې ډیر خود خوا حاکمان لیدلي دي چې شخصي مدافع ته یې ډیر پام اړولي ووه او د رعایت حق به یې ترپخو لا ندې کووه نو داسې حاکمان ډیرتیرشوي او همدارنګه ډیر په بد وضعیت سره دمنځه تللي دي او تولـه پا چاهي یې ترې پاتي شوې ده .

خو په دې دنیا کې هرڅومره ظالم کوی نو الله (ج) ته به څه ځواب ورکوی .

نو اړینه داده چې هر انسان که هغه پا چا وي او که ګدا باید دحق تابع وسي او دښو کارونو په ترسره کولو ځان بو خت کړي چې ترڅو ښه اعمال له ځانه سره یو سي .

## يـوه اسلامـی ټـولـنـه

اسلام ډير يو پرمختللی دين دی چی د هر ډول ستونزو د حـــل لار په کی شتون لری او دټول بشـــر د حـــــقو قو تابـــع دی.

يو ه اسلامی ټولنه بايد ټل داسلامی قواعدو تـــابـــع وسی او د ټولنی له خوا ورته پورارزښت ورکړل شی .
په اسلامی ټولنه کی هيڅ کله دنفاق او دشخړی سره خــــلک مل نه وی او ټل د سولی په لمن کی ژوند کول غــــــواړی
يوه اسلامی ټولنه هغه وخت اسلامی ټولنه ګڼل کيږی چـــی د
د بشريت د حقوقو ځرګندوالی پـــــکی شتون ولـــــری او همدا رنګه دبشريت او اسلامی جامی پربنسټ عمل وکـــړل شی نو دغه ټولنه داسلامی د ټولنو څـــــخه کيـــدی شی

زمونږ په هيواد کی اسلامی ټولنيز ژوند شتون نه لری ځـــکه که مونږ وګورو چی زمونږ په ټولنه کی هيڅ ډول اسلامــــی قوا عدوته پاملرنه نه کيږی او خلک مو هم د بـل فرهنګ پــه جامعه کی ګرځی او همدا رنګه مو د رسانيو له خواغيراخلاقی خپرونی خپروی نو دی ته موږ اسلامی ټولـــنه نــــــه شو وويلی. خو دحل لاره داده چی بايد زمونږ ټول علمـــا پــــه ګډه سره په هر جومات کی اسلامی تبلغ وکړی چـــی تر څـــو خلک د اسلام د قواعدو څخه با خبر کړی .
ځکه زمونږ هيواد يو اسلامی هيواد دی او موږ بـــايد تـــل د اسلامی د سنت او دفر ضو تابع وسو.

## د بـریـا لار

د بریا لاره په کوم کار کی شتون لری او څـــنګه کولای شو چی د بریا لار پیدا کړو.
بریا تل د کوښښ تر شا ولاړه وی داپه دی معـــــنا که غواړی چی د بریا پـــه پل ګام کیږدی نو پـــه هـــر کار کی کوښښ وکړی او هـــغه کـــار چـــی ناشونی دی دپراخ نیت اود کوښښ په بنسټ یی شونی کـــړی نن که موږ ثروت مند خلک په ټولنه کی ګورو هـــغو ی سره قسمت هم مل وی خو هغوی کوښښ هم کـړی چـی ترڅو د دی مقام خاوندان دی خو داسی ځـــــوانان زه په ټولنه کی ګورم چی د قسمت څخه خوشحاله نه ښکاری او بیا وایی چی قسمت را سره مل نه دی نو تـــــردیره دا خبره صحی نه ده که چیر یو څـــــه کوښښ وکـــړو او یو څه قسمت ورسره مل وی نو دا ځـــوان بـــــه تل کامیاب وسی اود ژوند څخه به هم خوشحالـــــه وی نو لنډه دا چی هر ځوان باید دخپل توان پـــــر بنسټ کوښښ وکړی چی تر څو بریا پیدا کړی.
او همدا رنګه که چیری دغه ځوان کوښښ وکــــړی هم به ځان د بریا خاوند کړی او هم به ټولنــــــه د بریا خاوند ه کړی
او په پای کی به د یو پرمختللی هیواد خاوندان وســـو .

# غوره نثر

په پخوا زمانو کی یو پا چـــا ډیره یو ه ښکلی مانی جوړه کړی ووه او پاچـــا د وخت په بنسټ ډیر ښکلی شیان دکور په انګړکی زوړند کــــړی ووه او د لیر هیوادنو ځخه یی ښکلی قالنی راوړی وی او دغـــه مانی په توله سمیه کی یی ښایست نه وه. د مانی دجوړیدو ورستــــــه یی تول د سیمی خلک لیدو ته را وبلل او ورته یی وویــــــل ای خــــلکو دا زما په ژوند کی ډیر یو غټ ارمان ووه چی داسی مـــــانی ولرم او وګوری زما په مانی کی هیڅ ډول کوم شی کم نه دی د خلکو له ډلی څخه یو سپن ږیری ورته وویل چی ستا په مـــــانی کی یو اړین شی کم دی پاچا حیرانه شو او ورته وویل چــــــی بابا زما په مانی کی کوم شی کم دی چی زما په مانی کی شتون نــــــه لری سپن ږیری چی ډیر د علم او پوهی خاوند ووه ورتـــه یی وویل ستا په مـــا نـــــی کی یـــو اځـی مرګ کـم دی پا چا ورته وویل چی داځنګه؟

ځکه چی دا مـــــانی او دا شان او شوکـــت د ستا څخه پاتی کیدونکی دی او ته به یواځی د یــــو کفن او یــــو لیشت ځمکی سره دالله (ج) حضور تـــه ورځـــی او ددی مانی ځواب به وایی

نو پا چا هم ډیر حیـــــرانه او خواشنی شو چی په رښتیا هم چی دا دنیا ډیر فانی او بـــی وفـــا ده او تول شیان زما څخه پاتی کیدونکی دی نو اوس باید زه د نـــیک اعمالو ته مخه کړم او دخلکو حقو قو ته درناوی وکړم.

# خپلواکي

خپلواکي ډیره یوه خوږه کلمه ده چې په اوردو سره یې دانسان روح تازه کیږي.

تاسي ګورې چې په یوه پنجره کې زمرې اچول شوی وي او دمالک تر ولکې لاندي وي نو زمري هماغه زمري دي خو اوس د بل چا د ولکې لاندي نیول شوی دی او بې له امره هیڅ نه شي کولای.
نو خپلواکي هم داسي یوه څیره ځان ته غوره کړې که په یو هیواد کې نه وي نو هغه هیواد دبل چا د حکم لاندې ژوند تیروي او څه چې ورته ویل کیږي هغه باید وکړي .
خو دبلې خوا هر انسان خپلواک پیدا شوی دی او هیڅ څوک حق نلري چې دهغه خپلواکي تري واخلي.
موږ افغانان د زیاتي شخړي لیدونکي ووه او په ربښتیا هم چې هیڅ دول خپلواک نه ووه او تل مو دبل هیواد د احتاج شپې سبا کولاې.

خو خپلواکي د هر هیواد د وګړو پوري اړه لري داپه دی معنا که چیر په یو هیواد کې ټول د هیواد خلک یوځای وی او د یو بیرغ لاندي ژوند ولري او د یووالي په لمن کې وسی نو زما په اند چې هیڅ کوم قدرت نه شي کولای چې زموږ څخه خپلواکي واخلي او زموږ څخه غلامان جوړ کړي.
او همدا رنګه خپلواکي د یو هیواد پرمختګ سبب هم کیداشي.

# تولنيز ژوند

د تولنی تول غړی په خپلومنځو کی د کورنی په شان ګډ مزی لری.
په تولنيز ژوند کی تل بايد تول وګړی د يو بل سره مرسته وکړی
او په غم او ښادی کی ورسره ځان شريک کړی.
او همدا رنګه هری ستونزی ته په ګده لاره پيدا کړی نو دغه
تولنی ته موږ تولنيز ژوند وويلی شو.
او دبلی خوا به دير ژر د پرمختګ خاونده شی.
په اوسنی وخت کی په افغانستان کی تولنيز ژوند ته ديره اړتيا
ده چی خلک يود بل سره د وروروِلی لاسونه ورکړی او ددی هيواد
په جوړښت کی وندی واخلی.
په ګډه ژوند کولال او همدا رنګه په ګډه سره هری ستونزی ته
لار کتل دا هم د هيواد دپرمختګ او دهيواد د غښتيا په داګه کوی
تولنز ژوند ته په اسلام کی هم ديره پاملرنه شوی ده چی.
تول خلک په تولنه ژوند کوی نو هغو په خپلو منځو کی تول
غړ.ی او يووال وسی.
نو اوس موږ دی نتيجه ی ته رسيږو چی هر ه تولنه په خپلو کی
يووالی وولری.
خو بدبختانه چی په افغانستان کی دتولنيز ژوند کول دير کم
دسترګو لاندی کيږ.ی او خلک د قوم پرستی ته لمن وهی
چی دا دافغانستان راتلونکی نسل ته دير زيان رسيوی او هم
د پرمختا مخنوی کوی.
خو د حل لار دا ده چی راځی په ګده د سولی بهير سره
يوځا ی شو او ددخاوری پالنه وکړو.
موږ هر ډول جګړی وکړی خو مثبته پايله يی نه درلوده او د
ورسته پاتی هيواد سبب شو.

دافغانستان خلک به تر کومه په تیارو کې ژوند تیروی

مور افغانان تل د پردی یرغل لاندی خپل ښکلی ځوانان د لاسه ورکړی دی او تل د افغانانو سترګی د اوښکو څخه ډکی وی اود خوشحالی شیبی مو ونه لیدلی.
خو بیا هم مور افغانان د سولی په تمه د ستریا ډکی شپی سبا کوی.
او همدارنګه مو ښکلی مانی د جنګ په حال کی د منځی ولاړی.
افغانان تل د سولی تږی دی او دا یی په ژوند کی د ډیرو لوی ارمانونو څخه ده.
زه په خپل ژوند کی دافغانستان د حالتو په هکله تل فکرکوم چی دافغانستان راتلونکی به څه وی او داځی وخت به هم وی چی مور د سولی په لمن کی ژوند وکړو.
ځکه زمور هیواد دظلم او دهر ډول تیری شاهد وو او اوس هم دی.
خو هیڅ داسی څوک پیدا نه شول چی دافغانانو د درد درمل شوی وی او د مرستی لاس یی ورکړی وی.
مور چی هر هیواد ګورو هغوی تل د موخی لپاره افغانانو ته دمرستی لاس ورکوی او بیا یی بیرته په ډاګه پریکړی.
نو لنډه دا چی داجګړه به ترکومی دوام پیدا کړی او تر څو به مور خوار ملت دتیاروډکی شپی سبا کوو او ژوند به مو په تیارو کی تیریږی.
نو راځی دا داحمدشاه هیواد یو ځل بیا د احمدشاه دوخت هیواد تر جوړ کړو.

## دافغانانو ژوند

په نړی کی دافغانانو په شان هيڅ دفقر اود بدبختی ژوند هيڅ هيواد نلری.
نړيوال تل دخوند ژوند کوی او دژوند دهری شيبی څخه خوند اخلی.
خو بدبختانه زموږ تولنه تل دستونزو سره مبارزه کوی او هره ورځ مو په هيواد کی د وينو درياب روان وی او تور سری مو د ژړا په تيرولو خپل ژوند په تيارو کی تيروی.
او همدارنګه مو ځوانان په کم عمر کی د غم او درد له کبله دير ژر سپن ږيری کيږی.

موږ افغانان د يرش کاله راپه دی خوا تل دشخړی په لمن کی ژوند کوو.

نو افغانانو وايی چی ترکومی به موږ د مرګ او ژوبلی سره خپل ژوند تيرو وو.
او هرورځ مو د مرګ او ژوبلی خبر ترغوږه کيږی اود خوشحالی په خبر مو غوږه په تمه دی.

## یوه سالمه اداره

یو سالمه اداره څنګه جوړولی شوی؟
یوه سالمه اداره هغه وخت جوړیدلی شی چې دولس خلک دحکومت په کړونو خوشحاله وی نو هغه وخت موږ وویلی شو دا یوه سالمه اداره ده .
په افغانستان کی په اوسنی وخت کی هیڅ ډول سالمه اداره نشته او خلک دستونز سره لاس په ګربان دی او شکایت ترلری چې دا دافغانستان په اداره سستم کی کمزورتیا ښنی.
نویو ه سالمه اداره هغه وخت جوړیدلی شی چی دافغانستان دولت له خو ا دخلکو لپاره هر ډول ستونزی اسانه کړی او تل دخلکو په خدمت کی وسی

نن دافغانستان په ټولو ادارو د خلکو پر وړاندی ناوړی چلند ترسره کیږی او معنوی حقوقو یی تر پخو لاندی کوی .
چی داسی اداره بیا هیڅ کله هم سالمه اداره نه شی کیدای او همدارنګه د ټولنی د پرمختک مخنوی کوی نو اړینه داده چی دافغان حکومت د ټولو ادارو څارنه وکړی او تری پوښتنی وشی چی دا د افغانستان د دولت یو اړین مسولیت دی چی د خلکو په وړاندی یی ادا کړی.

دموکراسي څه ته وايي؟

دموکراسي يوه يوناني کلمه ده او معنی يې خپکواکي ده.
خو نن چې زموږ په هيواد کې کومه خپکواکي ده دی ته موږ دموکراسي نه شو وويلی.
ځکه دموکراسي بايد داسلامي دقواعدو پربنست وی. چې دا يوه ښه دموکراسي کيدی شي.
مګر نن زموږ خلکو د دموکراسي څخه ناوړې ګټې اخلی او بيا وايي چې دا دموکراسي ده خو حال دا چې دا سې عمل ته دموکراسي نه وويل کيږي.
په افغانستان کې هرډول فرهنګی او داسې نو د بې حيا يې کارونه کيږي چې دوی هم دا دموکراسي ګڼي.
نو اوس ښه دموکراسي هغه ده چې دبشريت او لکه مخکې چې يادونه وشوه داسلامي قواعدو پرنبست کارونه وکړل شي لکه د چا حق ونه خوړل شي د چا په حق کې جفا ونه شي او هسا ژوند ولرو نودا يوه ښه دموکراسي بلل کيږي.
او همدارنګه مخالفين هم دموکراسي ته په بده سترګه ګوري او هغو داسې فکرکوی چې دموکراسي داسلامي څخه پرضد کارونه ته وايي .
خودا دهغوی نظر زما په اند غلت دی .
يوه ښه دموکراسي کيدی شي ديو پرمختللی هيواد سبب وګرځی .

# نـــیـکـی

نیکی په دنیا کی هغه انسانی او بشری عمل دی چــی دانسان ترمنځ مینه او محبت پیدا کوی نیکی دهــــــر چا د توان کار نه وی او په ټولنه کی ډیرکـــــم خلک دی چی دخلکو سره نیکی کوی .
نیکی کولای شی یو انسان دلوی مقام خاوند کـــړی او په ټولنه کی لوړ نوم وګټی.
تاسی ګوری دنړی پرمخ انسانان ټل یوشان نه وی او داشونی ده چی د ستونزو سره به مــــــــخ کیږی.
خواوس اړینه دا ده چی په روان ژوند کی ټل او پـــه هرځای کی دهرچا سره نیکی وکړو او مـــشران بیا داسی وایی [ څه چی کری هـــــــغه به ریبی]
ددی متل موخه داده چی که نیک عـــمل دی وکړنو نیک عمل به وګوری.

# دانسان زړه مه ماته وه

تاسی ګوری کله چی شيشه ماته شی نو بيا پکی يو ه د ماتيدو نښه موجوده وی.
او دا نښه بيا نه پټيږی.
دانسان زړه هم د شيشی په شان څيره لری.
دانسان زړه ډير ژر ماتيږی او ډير ژر خواشنی کيږی
خو دانسان د زړ خوشحالول ډير اړين کار دی.
تاسی ګور ی چی چا ته بدی وينا وکړو نو شونی ده چی خواشنی به شی خو که وغوړو چی دځان څخه يی خوشحاله کړو دا ډير يو اړين کار دی.
نو دانسان خوشحالو ته تل په اسلام کی پاملرنه شوی ده او تل يی پرمسلمانانو غږ کړی چی هيڅ کله د ځان څخه بل انسان مه خواشنی کوی او تل کوښښ وکړی چی هر مسلمان دځان څخه خوشحاله کړی.
ځکه دا کار داسلام د پرمختيا او د انسانانو په ټولنه کی ډير اړين رول لوبوی او د پرمختګ سبب ګرځی .

## ملي وحدت

ملی وحدت هغه ښکلی کلمه ده چی دانسانانو ترمـــــنځه مینه او محبت پیدا کوی.
ملی وحدت کولای شی د یو پرمختللی هیواد سبب وگرځـــی او د یو غښتلی هیواد خاوندان شو.
په افغانستان کی چی کومی ستونزی وی او اوس هــم شته دا ټول د ملی وحدت نشوالی په ډاگه کوی .
ملی وحدت هغه وخت رامنځته کیدی شی چی خلک یووالی سره مل شی او د سولی په راوستلو کی هسا کـــوښښ وکړی چی دا ملی وحدت دی.
نن چی زموږ په هیواد کی هر ډول مــخالفین دی او ددولت په ضد جگړه کوی دا ملی وحدت نه دی.
هغه وخت به ملی وحدت پیدا شی چی دهیوادټول خلک سره یواځای شی او قومی او دژبی پرستی ته لمن ونه وهـــی هغه وخت کولای شو چی ملی وحدت په خپلو کی پیدا کـړو دا هیواد به ترکومه د یرغل لانــدی شپی سبا کــوی او ترکومه به زموږ په کورونو یرغل کوی
موږ افغانان د شخړی څخه ستړی یو او هـــمدا رنگه نور نه غواړوچی هدیری مو د شهدانوڅخه ډکی شی.

## یـو و الـي

یووالی په یوه ټولنه کـــــــــــــــــــــــــی دپرمختګ سبب ګرځی .
او همدا رنګه یووالی تـل د خـــــوشبختی او د ورورولـــــــــــی
سبب ګرځی.
نن زموږ په ټولنه فقر او بدبختی ده دا ټـــــــول دیووالی نشتووالـــــی
دی او خلک مو یو نه دی چی دا د بدبختی لاعمیل ګرځی.
یووالی هم کولای شی چی دیو غښتلی اقتصـــــــاد سبب وګرځـــــی
زموږ په هیواد کی ۳۰ کاله شخړه وه او هـــــر ډول ستونـــــزو
سره لاس په ګریوان ووه .
چی دا ټول د سولی او د یووالی نشتوالی ووه
نو اوس دحل لار داده چـــــی د ولس خلک سره یو او همدارنګـــــه
هری ستونزی ته په ګډه لار پیدا نه کړی او ددی خاوری پالنه وکړی
نو دا دحل لاره ده.
تاسی ګوری چی زموږ په هیواد کی داسی ډیربهرنی ځـــــواکونــــه
راغلل خو کومه مثبته پایله یی نه درلوده او د سولـــــی لاریـــــــی
پیدا نه کړه.
نو ددی ځخه جوته ده چی دد هیواد خلک په خپله سوله رانــــــــه
ولی نو هیڅ قوت نه شی کولای چی دی هیواد ته سوله راولــــــــی
نو اړینه داده چی باید خلک یو شی او هری ستونـــــــزی تــــــه
په ګډه لارپیدا کړی او دیووالی سره مـل شی
چی دا کار کولای زمـــوږ هیواد دپرمـــختګ خـاونــــــد کړی.

## سـولـــه

سوله د هيواد لپاره ډيره اړينه ده سوله دهيواد دپرمختګ سبب ګرځی.
او هم ديوی غښتلی تولنی جوګه ګرځی.
نن چی نړی دمره پرمختللی ده دا ټول د سولـــــی برکت دی او همدا سوله ده چی دنيک بختی او دخو ښی سبـــب ګرځی.
په افغانستان کی ۳۰ کاله خلک دسولی په تمه خــــــپل ژوند تيرکړ او سولی يی دزړنو ارمان دی.
موږ افغانان د سولی تګی يو او تل سولــــه غـــــــواړ خو دا ارمان او دا تنده مو هيڅ کله مــــــاته نه شوه او د سولی کلمه مو ترغوږه نه شوه .
سوله تل د پرمختګا او همدارنګه د يو ښه هـــــيواد سبب ګرځی.
سوله نه يواځی د هيواد لپاره اړينه وی بلکه پــه کــــوم هيواد کی چی سوله وی نو هغه هيواد ته نړيوال هم پــه درنه سترګه ګورو او تل ورتــــــــه احترام قايل وی.
زموږ په هيواد کی چی اوس سوله نشته نو نړيوال هـــم موږ ته په بده سترګه ګوری او چی خبر شـــی دا افغان دی نو دهيڅ ډول ظلم څخه ډډه نه کوی او حقوقو تــه يی درناوی نه کوی.
چې دا ټول د سولی نشتوالی دی.

# دوه مخي انسان

ګل ته ګورې چې په ظاهرکې ډير ښکلې رنګونه لرې او د هرچا پام يې ځان ته راړولی دی.

نو اوس انسان هم په ظاهرکې ډير خوږ وی او هـــرچا سره خپل تر تو انه مرسته کوی.
خو په ټولنه کې دانسان پيژندنه ډيره سخته ده .
لکه دګل په شان چې هغومره بوی کوی نو هغومره ژر مـــــړاوی کيږی او خپل بوی او ښکلا دلاسه ورکوی .
نو انسان هم د ګل په څيردی داپه دی معنا چې دانسانانو په ډله کـی ډير کم وګړی دی چې خپل رنګ ډير ژر بدلوی او ژر مړاوی کيږی خو يو شمير نو ر بيا ډير ژر خپل رنګ نه بدلوی او ژر نه مـړاوی کيږی.
داپه دی معنا دی چې په ټولنه کې يو شمير خلک دوه مـــخی دی او په دوستی وفا نه کوی.

## نــړی

په نړی کی ډول ډول خلک ژوند کوی.
خو په نړی کی ټول وګړی يو شان نــــه وی څـــــــوک
د ژوند څخه خوشحاله ښــــکاری او څـــوک د ژوند څـــخه
خفه چی دا دنړی وصول دی .

تاسی ګوری په نړی کی هـــم نيت بـــده خلک ژوند کـــوی
او هم ښه خلک.
نړی ته که موږ پــــه جـــور فـــکر وګـــورو الله (ج)
مـــــوږ تـــــه ډيرښــــــکلی نعمتونه پيدا کـــړ دی .
تاسی وګـــــوری چـــــی څـــومره ښکلی دريابونـــه دی
څومره ښکلی طبيتونه دی .
نو يوشمير خلک د ژوند څخه خوشحاله نـــــــــه ښکـــاری
او تل ژوند ته بد وايی.
اوس اصلی موخه دغه ده چی بايد هيڅ څـــــــــوک دی
نړی ته بد ونه وايی هغه څوک چی بد وايـــی شـــونـــــــی
ده چی هغه به دالله (ج) عـــــــبادت نه کوی او يا بـــه پــه
بد کارونو بوخت وی.
نو الله (ج) هم کيداشی په دی دنيا خـــپل قـــهرورښکــــــاره
کوی چی ترڅو پند واخلی.
دژوند خوند تل دالله (ج) په عبادتو کی دی او تـــــل دالله(ج)
بند ه ګانو سره بايد مينه وکړو
ځکه په دی کار الله (ج) زموږ څخه راضـــی کــــــيږی
نو اړين دا ده چی ټول مسلمانان بايد دالله (ج) عبـــادت وکړی
او دالله (ج) پرنعمتو شکروباسی.

## د احتــاج شپـې

دکومه وخته چې بهرني زمونږ هیواد ته راغلي دي نو ددوی دمرستیو څخه زیات مونږ ته زیان ډیر اړولی دی.
او هر ورځ مو په بیلا بیلالو ولایتو کې بې ګنا ه وګـــړې وژنـــــې او داسې دهیواد نورو وګړو ته ژوبله اړوی.
مونږ ددې شاهدان یو چې کله بهرني ځواکونه په یو سیمــــه کــــې عملیات کوی نو که په هغه ځای کې که دري طابان وژني نو ورسره شل بې ګنا ه وګړی هم وژني او هـــمدارنــــګــــه دوی د خلـــکو کورنه هم ړنګه وی او بې ګناه او بـــــې وزلـه خلـــــکو یې دځان سره وړی او پرهغو هر ډول ظلم او د غــــــیراسلامـــــې چلند کوی. چې دا عمل په هیچ بشری تولنه کې نشته دی.
خو افغان حکومت هم ناست ترزني دي او ننداره یــــــې کــــوی اوکوم چټک غبرګون یې نه دی ښودلی.
په هر ولایت کې او په هره ولسوالي کې ډیر شمیر بې ګناه وکــــړی وژل کیږی او ماشومان مو یتمان او بې سرنوشــــته پاتــــې کیږی او بیا ووایې چې دوی تروروستان وو او زمــــونږ پرضــــد یــــې جګړه کولاله. نو آیا ماشومان تروروستان کیدی شي؟
تاسې ګورې دوی زمونږ ماشومان وژني دوی زمونږ په نـــامـــوس تیری وکړل دوی دهر تول زهری موادو څـــــخه ډده ونه کـــړه.
نو آیا دا زمونږ دوستان کیدی شي او مــــــرســــته داسې وی.
نه هیڅ کله کافران زمونږ دمسلمانو ملګری نــــــه شي کیــــدی دوی زمونږ هما غه پخوانی او مذهبی دوښمنی تراوسه هــم نـــــه ده هیره کړی او پرضد مو ناوړی عملونه کوی.

## ژوند

ژوند هغه د خیال هنداره ده چې موږ پکې ژوند کـــــو .
ژوند د ابو په څیر څیره لري لـــــکه ابو چـــــې پـــه سمندر کې رواني وي او بـــیا هیـــخ کله نـــه راګرځي نو ژوند هم د ابو په څیر تیرې کیږي او بیا هیڅ کـــله نـــه را ګرځي.
په ژوند کې تل د ښو کارو جوګه وسې او تل کوښښ وکـــړی چې د هر انسان سره مرسته وکړی دا نیک اعمال کولای شي موږ دیوی ښې لار په طرف بوځي.
ژوند ته هم موږ دالله (ج) له خوا ازموینه هــــم وویلی شو نو دا په دې معنا کله چې موږ ددې نړی څـــــخه سترګي بتېه وو نو زموږ څخه دلله (ج) له خـــوا ازمـــــوینه اخستل کیږي نو هغه څوک چې بریا پیدا کړ نو جنت ته په ځی او که ناکام پاتې شي نو د جهنم په لوربه حرکت کوی.
نو که غواړی چې په دی ازموینه کــــــــی بریالی شي نو دنیک اعمالو سره ځـــــان یـــــواځـــــې کړی او دنیکی جام راوخلی.
نو دا کار کولای شي چـــــــــی تاسی د دی ازموینی بریالی وګړی ووبولی .
په ژوند کی تل د نیک او دخپل توان پـــــربنست دخلکو سره مرسته وکړی . ځکه موږ الله (ج) د یـــــــو بل مرسته ته خلق کړی یو نو باید د الله (ج) په فرمان دا کـــــــار عملی کړو.

# آ د ا ر ي ف ـسـ ا د

آداری فساد هغه اداری مریضی ده چــــی د ټولنی د بدبختی سبب ګرځی.
په افغانستان کی دفساد کچه په اوسنی وخت کــــــی ډیر زیاته ده او ورځ په ورځ د پرمختګ په حال کی لیدل کیږی.
خو دافغان حکومت په دی اړه هیڅ غبر ګون نه دی ښودلــــــی او هیڅ ډول څارنه یی نه کوی.
خو دحل لار څه ده؟
د دی عمل دحل لار زه د اقتصاد پوری تړلی بولم دا په دی مـعنا که چیری دافغان حکومت دوی ته ښه تنخوا ورکــــړی او ددی د کورنی د مصرف پر بنسټ تنخوا ورکړی نو زما په اند چــــی دا د دی عمل مخنوی کولای شی.
فساد تل د یوی ټولنی د پرمختګ مخنوی کوی.
او خلګ ورسره تل لاس په ګربان وی.
نن دافغانستان په ټولو آدارو کــــی فساد شتون لــــــــــــری .
کله چی یو کس دکار لپاره یوی اداری ته ځی باید چی د کــــار په بدل کی ورته پیسی ورکړی چی ترڅو یی ورته کارخـلاص کړی او هغه څوک چی پیسی ورنکړی کار یی په ورځو هم نه خـلاص وی او ورته وایی چی نن راشه او سبا.
چی دا کار په دی لسو کلنو کی ډیر زیات شوی دی او یــود رواج ځیره یی خپله کړی ده.
نو دافغان حکومت باید په چټکتیا سره اوچت او جدی ګامونه پورته کــړی او پـــه تدریجــــا ډول سره یی مـــــخنوی وکړی.
چی دا کار کولای شی د فساد کچه ټیټه کړی.

## ښه ملګری

ښه ملګری په ټولنیز ژوند کـــــــــــــی ډیر ارزښت لری.
ښه ملګری تل د پرمختګ لاعمیل ګرځی.
خو بد بختانه چی زموږ په ټولنه کـــــــی ملګری تل د خپل دوست دبدلار بـــه هلکه فکر کوی او په هــــره لارورتــــــه کوهی کندی.
نو اړینه داده چی هر ځوان دا کوښښ وکړی چی خپل دوست په روان ژوند کی وازمایی او ازموینه تری واخلی.
ځکه ځوان د یو نیالګی په څیر وی نو دد فــــکرپوخ نه وی نو په همدی علت ځوان هرڅه کوی هغه په خپل کــــــار نه پوهیږی او نادان وی.
نو اړینه داده چی هــــــره کورنی دخپل زوی د کرداراو رفتار پاملرنه وکړی.
زموږ په ټولنه کی داسی ډیری کـــــــورنی دی چی ددی ستونزی سره مخ دی.
نو اوس باید دحل لاره داده چــــــــی دهــــغو سره ښه او دزده کړي په ښنسټ عمل وشی .
ځکه ځوان داحساساتو په حــــــال کـــــی وی او هغه پرځان نه پوهیږی خو دکورنی دا مسولیت دی چـــــــی د نیک چلند او دحوصلی څخه دی کار واخلی چی داعـــمل کیداشی دیوی ښی کورنی جوګه وګرځی.
او که دا عمل ترسره شی نو هیڅ ډول ستونزه بـــه په کورنی کی نه وی او یوه خوشحاله کورنی به وی او تـــــــل به د سولی په لمن کی ژوند کوی.

## ما شومان

ماشومان هغه تنکی نيالگی دی چی نن يی کرو او سبا يی د سوری لاندی کينو.
ماشومان بايد دښی لاری په ښودلو سره بو خت کړل شی ځکه ماشومان ددی خاوری راتلونکی ساتونکی دی او د هيواد راتلونکی هم دا دوی پوری اړه لری.

نو اوس بايد ماشومانو ته دزده کړی او دهغو ی د ژوند سره سم د لوبو ډگرونه جوړ کړل شی. او حقو قو ته يی درناوی وکړو.
خو بدبختانه چی په تيرو کلنو کی زموږ ماشومان دهر ډول مينی څخه ليری پاتی شول او ان تر دی چی دشاخه کارونو جوگه هم ووه.

چی دا کار د هيواد د پرمختنگ مخنوی کوی.
نو دافغان حکومت بايد دماشومانو د زده کړی په اړه ډير اوچت گامونه واخلی چی ترڅو زموږ هيواد د پرمختنگ خاوند شی.

## د حل لاره څه ده ؟

دافغانستان ټولو لیکوالونو او ادیبانو داسی ښکلی لکنی وکړی او دهیواد ستونزی یی دقلم په څوکه ولیکلی خو اوس داسی لیکنی وشی چی د هیوادد راتلکونکی په اړه وی او دحل لارپکی شتون ولری او په هر ژبه یی ولیکلی او دولت ته یی وړاندی کړی.

ځکه افغانستان په اوسنی وخت کی ټولنیزو اندونو ته دیره اړیتا لری او د دوی نظریات او لیکنی هم د دافغانستان په جوړولو کی پراخ رول لوبه وی او تردیره پکی د بریا لار هم شتون لری.

نو دا کار هم دافغانستان د کلتور څرګندوالی کوی او هم دیو هیواد د پرمختګ سبب هم کیدی شی نو دا هم د حل لار بلل کیږی.

## مور او پلار

مور او پلار هغه ځوک دی چی د اولاد سره تل زيار باسی.
همدا مور ده چی شپه تر سبا دخپل اولاد سره ناسته وی او
د اولاد درد دځان سره شريکه وی او تل کوښښ کوی چی
زوی او يا لورمی درد ونه ګوری نوارينه داده چی مونږ
بايد تل د مور او دپلار درناوی وکړو او تل يی د خبرو
تابع او منلی وسو او په هر کار کی تری مرسته وغواړو
چی ترڅو موږ په خپل کار کی بريا پيدا کړو.
که هر ځومره موږ دمور او پلار عزت وکړو نو موږ
هيڅ کله د مور او پلار حقوقو پوره کولای نه شو.
نو جنيت د مور او دپلار د پخو لاندی دی که غواړی
چی په ژوند کی بريا پيدا کړی نو مور او پلار تل دځانه
راضی وساتی او تل يی قدر وکړ تاسی. ګوری چی په نړی
که هر څه پيدا کيږی خو مور او پلار او دهغوی مينه بيا
نه پيدا کيږی.
خو بد بختانه زمونږ په هيواد کی يو شمير ځوانان دی
چی د مور او پلار خبری نه منی او تل دهغوی دخبرو پر
ضد کار کوی چی دا هم د پلار او مور په حق کی لويه
بی احترامی ده چی دا ځوان بيا هيڅ کله بريا نه پيدا
کوی او تل به د بد بختی په لمن کی ژوند تيروی .
چی مشران وايی [ مه کووه په چا چی و به شی پرتا ]
ددی متل موخه داده چی هر انسان که دمور او پلار
عزت ونه کړی نو د هغه ځامن هم بيا د هغوی عزت
نه کوی چی دا زمونږ په تولنه کی يوه اړينه تجربه
بلل شوی ده. نو راځی تل د محمد(ص) پرسنتو ګام پورته کړو
او تل دموراو پلارقدر وکړو چی تر څو په ژوند کی بريالی وسو

## ځوانان او ټولنه

ځوانان د ټولنې اصلي عناصر دي او دوی کولای شي چې خپل هيواد دپرمختګ خاوند کړي او دهيواد جوړښت همدا دوی پورې اړه لري.
ځوانانو ته بايد دا ياد کړل شي چې همدا تاسې ددې خاورې راتلونکي مالکان ياست او دهيواد جوړول تاسې پورې اړه لري.
او دا دځوانانو اړين مسٔوليت ګڼل کيږي.
اوس د حکومت مسئوليت د ځوانانو په برخه کې څه دی؟
حکومت مسول دی چې دځوانانو راتلوونکي ته پراخ ارزښت ورکړي او همدا رنګه د زده کړې زمينه ورته مساعده کړي اوپه داخل دهيواد کې ورته د ښوونځيو جوړول او همدا رنګه د ښکلي اوپه نړيواله کچې پر بنسټ ورته پوهنتونه جوړل کړل شي.
چې دا دهر هيواد د حکومت د ځوانانو په برخه کې يو اړين مسئولت بلل کيږي.
زمونږ په هيواد کې ۳۰ کالنې شخړې زمونږ د ځوانانو زده کړې ته ډير زيان واړو چې دا ديو ورسته پاتې هيواد سبب ګرځي.
نو په اوسني وخت کې ځوانانو ته ډيره اړتيا ده چې د خپل هيواد په جوړښت کې پراخه ونډه واخلي چې دا کار دهيواد په پرمختګ کې اړين رول لوبوي.

## د يـو غښتـلـی اقـتـصاد جوړول

نن په نړۍ کې هر هیواد د یو غښتلی اقتصاد درلودونکی دی او ورځ په ورځ یې د اقتصاد کچه د لوړیدوپه حـال کـې تر سترګو کیږی او هـر هیواد سره یې خپلی تجارتی اړیـکی غښتلی کړی دی.

خو په افغانستان کې د اقتصاد کچه ډیره لاندی لیدل کیږی او داسی ښکاری چې دنړی داقتصادی سستم سره سمون نـه خوری یعنی موږ هرډول خوراکی توکـی او داسی نور د ضرورت توکی د ګونډی هیوادونو څخه وارد ووه چـی دا یو کمزوره اقتصاد په ډاګه کول دی.
نو اړینه داده چې څنګه وکولای شو د یو پیاوړی اقتصـاد خاوندان وسو.
هر هیواد په یوه برخه کی شهرت لری یا به یی پـه صنعت کی او یا به یی په زراعتی برخو کی چـی دا یـی دهیواد د عښتلی اقتصاد جوګه کیدی شی.
نو افغانستان هم په زراعت کی په نړیواله کچه اوچت نـوم لری او میوه یی دنړیوالو بازارنو کی د ښه قمیت خاونـده ده نو دافغانستان اقتصاد کولای شی ددی لیاری پرمـختګ وکړی ځکه چې افغانستان د نورو هیواد ونو پـه شان د سمندر سره لار نه لری نو مجبوره او مکلف دی چـی په زراغتی برخو کی پاګنه ونی وکړی نو دا کار بـه د یو پرمختللی اقتصاد او د یـو پرمختللی هیواد جوګـه وګرځی.

## يوه نيکمرغه کورنی

د يوی نيکمرغی کورنی جوړول تـل د کورنی د وګړو پوری اړه لری.
ځکه که چيری د کـورنی غړی پـه اتفاق او سوليز ژوند ته غاړه کيږدی نو بی لـه شکه چـی د يوی ښی کورنی سبب به وه ګرځی.
خو زمونږ په هيواد کی داسی ډيری بـدبختی کورنی شتون لری چـی هری ستونزی سره لاس په ګربان دی .
نو اوس بايد ددی ستونزو اصـلی لاعميل څرګند کړو.
د کورنی خرابيد ل او يا شخړی سره مـبارزه کول دا ټول د اقتصاد کمزورتيا په ډاګه کـوی يعنی کله چـی په يوه کورنی کـی ستونزی او يـا شـخړه رامنځته کيږی نـو دا شونـی ده چـی د پيسو پر سر بـه يـی شخړه وی او يا به د ځـوی ښځه بـه يی د بد کردار او کوم بل ناوړی عـمل ترسر کـړی وی چـی دا د کـورنـی د د شخړی اصلی عوامل کيدی شی.
خـو اصـلی موخه دا ده چی د ښه چلند اود زده کړی پر بنسټ ګام پورته شی او دحوصلی ښځه دی کـار واخستل شی چی دا کار ديوی ښی کورنی سبب ګرځی.

## آيا د افغانستان قومونه سره يو دی؟

که چيری مونږ تيرو وختونو ته يوه جوره کتنه وکړونو ددی څخه دا څرګند يږی
چی د قومی او ژبی پرستی ډيره نه ووه او خلکو يو هادی ژوند درلود خو په
څو کلنو کی مونږ دزياتو نوی خبرو شاهدان يو چی يو شمير خلک قوم ته
لمن وهی خو دا کار زما په اند د بدبختی سبب ګرځی او ترديره هده
دجګړی په راوستلو کی اړين رول لوبوی او په کومه ټولنه او يا په کوم هيواد
که چير دغه خبری او قوم پرستی زياته شی نو هغه هيواد به هيڅ کله هم
د پرمختګ خاوند نه شی او تل به ورسته پاتی هيواد وی.
په افغانستان کی هم داسی خلک شته چی په ښکاره دول قوم پرستی ته لمن
وهی او همدا رنګه داسی رسانی يی هم جوړی کړی دی چی په کی په
يوه ژبه خپرونی کيږی چی بايد ددی ناوړی عمل څارنه وشی او ورته د
قانون پر اساس جزا ورکړل شی خو دا کار زما په اند ددولت څخه په کنترول
کی نه دی او داسی يوشمير لوړ پوړی کسان هم شته چی هغوی هم په دولت کی
کار کوی او هم قوم پرستی ته لمن وهی چی دا دخلکو ترمنځ خنډ را منځته
کوی او بيا نو کله ټول قومونه دوی سره په سوله کی برخه اخلی.
نو اوس دا اړينه ده چی مونږ بايد هر قوم ته او هر ژبی ته په درنه سترګه
وګورو او کوښښ وکړو چی هر يو قوم ته په هری پريکړه کی پوره ونده
ورکو چی دا کار کولای شی د يو ښکلی او ډيرمختللی افغانستان سبب وګرځی
څکه مونږ هر دول زيان ظلمونه وليدل نو اوس نه غواړو
چی ددی کار بيا جوګه وسو.
نو راځی چی په ګډه ديو پرمختللی افغانستان لپاره ګډی هسی او ديو بيرغ
لاندی خپل پاتی ژوند په خوشحالی تير کړو.

## دافغانستان کلتوري تولني ته يوه کتنه

په تيرو لسو کلنو کي دافغانستان کلتور تـــه هيڅ ډول پاملرنه نه ده شوي او ان تردی چی پردی کلتور هم زمونږ پـــه تولنه کی راگډ شوی دی مگر دافغانستان کلتوری ځانگی هم کوم چټکی غـــبرگون نه دی ښودلی چی دا هم دافغانستان د کلتور د هيردو سبب کيدی شی.

تاسی وگوری چی يو شمير لوحی او داسی نور نومونـــه هم دبل هيواد دفرهنگ پر بنسټ کيښودل شوی دی لکه د کابل پوهنتون او همدا رنگه نور داسی فرهنگی تهداب يی رنگ کړل چـــــی دا ټول ديوی ضعفی دولتدار ښکارونه ده نو که چيری دافغانستان دولت او کلـــتور وزارت کوم غبرگون نښي نو بايد دافغانستان خلگ او ټول کلتوری تـــولنی ددی پردی فرهنگی يرغل مخنوی وکـــړی چی ترڅو زمونږ ۵۰۰۰ کلنه تاريخ کی کوم بدلون رامنځه ته نشی.
نو بايد ټول ښوونځی او همدا رنگه کلتوری ځـــانگی د خپلی ژبی پراخ تبلغ وکړی او په پښتو او دری ژبو باندی ښکلی کتابـــونه ولکلی او دښوونځيو کتابونه کی دی هم دری او پښتو ژبـــه پـــه اصـــلی لغاتړ ولکل شی چی تر څو زمونږ راتلونکـــــی نسل دخپل پلارنی کلتور پوره ستانه وکړی .

# د پښتو ملغلري



لیکوال: طارق فقیرزی

د مندلو ځایونه:

د سخی الله کتاب پلورنځی کابل کارته نو مارکیټ
جلال اباد ښار د احمدزی شنواری کتاب پلورنځی